## د ترون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د افغانستان بانک د خدماتي کارکوونکو د پسرلنیو او ژمنیو یونیفورمونو چمتو او تدارک کولو پروژې ترون د نور افضل لوژستیکي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک د خدماتو لوی آمریت لپاره د خدماتي کارکوونکو د پسرلنیو او ژمنیو یونیفورمونو چمتو او تدارک کولو پروژې ترون د نور افضل لوژستیکي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د D-46831 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه يې د کابل ولایت، 11 ناحیه د قلعه نجارا څلورلارې سړک، نور پلازا، 15 نمبر کور کې دی، د ترون ټولیزه بیه /1,298,000- یو میلیون، دوه سوه او اته نوي زرهافغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن‌سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ترون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ترون به نه عقد کېږي.